پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰٤/۱۹

# د افغانستان دائمی بیطرفي

## خـبـرنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

دویمه برخه

# لومړی څپرکی

**لومړني اټکلونه**

**«آيا افغانستان دا شانس لري چې په راتلونکي کې په آسيا کې کټ مټ لکه سويټزرلند چې په اروپا کې دی دايماً بې طرفه ملت سي ؟»**

بايد په ياد ولرو هغــهٔ څه چې سويټزرلند د نورو ټولو وړوکو ملتونو استازی جوړ کړ همدا «دائـمي بې طرفي» وه چې په ۱۸۱۵ز کال کې هغه مهال د ويانا په کانګرس کې يو دايماً بې طرف هېـواد سو چې د اله ګولې په غوبل کې ډوبې اروپا راچاپيره کړی وو او د جګړو تر ګواښونو لاندې وو، دا تقريباً هماغه حالت دی چې نن آسيا ورسره مخامخ ده.

**د مصطلحاتو تعريف**

مخکې له دې چې د افغانستان د «دايمي بې طرفي» وراشي يا بحث ته چې په آسيا کې د سويټزرلند د هېـواد په شان سي، لومړی بايد هغه اصطلاحات دلته تعريف کړو چې په دې وراشي کې کارول کېږي.

**دايماً بې طرفه هېـواد :** هغه خپلواک هېـواد دی چې د يوهٔ نړیٔ وال تړون له مخې چې د نړیٔ لويو ځواکونو په ضمانت لاسليک کړی وی، ژمنه کوي چې د ټولو متحاربو هېـوادونو پر وړاندې د يوهٔ بې پرې يا بې طرفه هېـواد په توګه پاتې کېږي؛ داسې دائماً بې طرفه هېـواد د خپل ملي پوځي ځواک په مټ او يا د خپلو پوځي مليشو په مټ د ځان د دفاع حق لري، خو په دې شرط چې ددې هېـواد پر سرحدي حريم باندې بريد د هېـواد له سرحدي کرښو دباندې پيل سي.
بېـلګه : سويټزرلند يوازينی دايماً بې طرفه هېـواد دی چې د دوه وو سوو کالو په اوږدو کې د وخت د بتیٔ له آزمويني بريالی راوتلی دی.

**بې طرفه هېـواد** : هغهٔ خپلواک هـېـواد ته ويل کـېږي چې د بل متحارب دولت يا دولتونو پر وړاندې او يا ددوه وو او يا د څوو هېـوادونو په منځ کې د راپيښ سوې رواني جګړې پر وړاندې – بېـلګه «دويمه نړیٔ واله جګړه» - ځان بې طرفه اعلان

کړي. بېلګه :له ۱۹۱۹ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د افغانستان بې طرفي او د افغانستان ناپييلتوب؛ افغانستان د هند او پاکستان تر منځ په دريو جګړو او هم په لومړۍ او دويمې نړۍ والې جګړې کې بې طرف پاتې سو. د ۱۹۰۷ز کال د هاګ د کنوانسيون په ۵[۱] او ۱۳[۲] موادو کې د بې طرفو ځواکونو حقوق او وجايب تعريف سوي دي.

**بی طرف پاتې کېدل او بی طرفه باندنی سیاست :** دا هغه مهال دی چې يو هېواد اعلانوي چې غواړي بې پرې پاتې سي او په راتلونکي کې په محتمل الوقوعو جګړو کې بې طرفه پاتې کېږي. دا ډول هېواد هغه مهال په جګړې کې د ښکېلېدلو حق لري که کوم په جګړې کې راګير هېواد وربانديې تيرى وکړي. سويډن د دويمې نړۍ والې جګړې په ترڅ کې د بې طرفۍ سياست غوره کړى وو او له هغۀ مهاله تر اوسه همدغۀ سياست ته دوام ورکوي.

**غير متحارب يا ناپييلی سياست :** دا ډول دولت يا دولتونه دي ته اړ نۀ دي چې بې پرې پاتې سي، خو تکل لري چې غير مداخلت ګر پاتې سي او هم به له کوم پوځي ائتلاف سره يو ځاى نۀ سي. بېلګه : افغانستان : له دويمې نړۍ والې جګړې وروسته د ناپييلتوب د غورځنګ غړى وو.

ډيري کسان کله چې د «دائمي بې طرفۍ» اصطلاح اوري يوازې د سويټزرلند په هکله فکر کوي. خو له تأريخي اړخه له ۱۵۰۰ز کلونو وروسته په نړۍ کې داسې هېوادونه هم ول چې خپله بې طرفي ئې اعلان کړې مګر بيا هم د يوۀ متحارب ځواک تر تاړاک او بريد لاندې راغلي دي.

د بېلګې په توګه **بلجيم،** د خپلو پرګنو او د خپل نيرډې ګاونډي هالند له ناليوالتيا سره سره په ۱۸۳۱ز کال کې ئې يو شمير خبرې اترې پيل کړې؛ په پاى کې په ۱۸۳۹ز کال ډېرېو اروپايي ځواکونو په سيمه کې د ځواک – انډول په موخه چې تر ډېره د همدغو ځواکونو په ګټه وه، د بلجيم بې طرفي ضمانت کړه. په ۱۸۷۰ – ۱۸۷۱ز کلونو کې د فرانکو – پروس Franco-Prussian د جګړو په لړ کې او په ۱۸۳۹ز کال کې د لندن کنفرانس د بيسمارک د ځان غوښتنو او سراښتوب مخه ونيوله، ځکه لندن يوازيني ځواک وو چې په خپل ځواک ئې وکولاى سول د بلجيم له بې طرفۍ څخه دفاع

۱ - The Hague Convention ۱۹۰۷. Article V - Convention Concerning the Rights & Duties of neutral Powers in naval war. Avalon Project of Yale Law School on Laws of War. The Hague ۱۸۹۹ & ۱۹۰۷ Conventions.

۲ -Ditto. The Hague Convention ۱۹۰۷. Article XIII -

وکړي [۳]. په خواشینی چې په ۱۹۴۰ز کال کې د دویمي نړی والي جګړې په لړ کې «نازي پنزر Nazi Panzer tanks» شوبلو بلجیم د اتلسو ورځو په ترڅ کې ونیوۀ، که څه هم د ټلوالي ځواکونه د بلجیم دفاع ته راودانګل خو بیا هم بلجیم ونیول سو. په دې کې د ناکامی بنسټیز علت باید د ټلوالي د ځواکونو غاړې ته ولوېږي ځکه چې د ټلوالي ځواکونو د هیټلر د پیاوړي او مجهز موټریزه ځواک پر وړاندې د مخنیوني مدافعوي وړتیا نـۀ درلوده.

**آستریا :** ددویمي نړی والي جګړې په وروستیو ورځو کې د متحده ځواکونو : شوروي اتحاد، برتانیې، د امریکا متحده ایالاتو او فرانسې له پلوه ونیول سوه. متحده ځواکونو د څو کلونو له سر خوړي ډکو خبرو  وروسته احساس کړه چې ددې پر ځای چې د آستریا شمال د شوروي اتحاد تر ولکې او سویل د درو ګونو متحده ځواکونو تر ولکې لاندې راسي، د «آستریا د متحدو خلکو» له هېـواده وتل چې خپل ټاکل سوی حکومت ولري ورته ډېره ګټوره ده. څلورو واړو ځواکونو د آستریا د تړون تر نامـۀ لاندې په ۱۹۵۵ز کال کې د آستریا دائـمي بې طرفي لاسلیک کړه. له هغه مهاله نیولې تر نن پورې آستریا خپل استقلال لري او په سوله او امن کې ژوند کوي او د همدې سولې پر بنسټ ده چې آستریا یو ځل بیا خپل بدای تأریخي فرهنګ او پیاوړی اقتصاد تر لاسه کړی دی.

**لاوس** : د پیاوړو او متجربو ډیپلوماټانو له خبرو اترو سره سره مخکې له دې چې ددې هېـواد د بې طرفۍ په باب جدي خبرې پیل سي بیا هم بریالی نه سو چې خپله بې طرفي ترلاسه کړي. ددولتي بې طرفۍ په چارو کې د نړۍ نامتو متخصص پوهاند الف. ک. کورنین *Professor A. K. Cronin* په دې باب یو ډېر مهم ټکی ویلی دی «لاوس د بې طرفه کولو د لومې هغه له پند او عبرته ډک داستان دی چې غوښتل کېـدل داسې ټاپو وزمه د بې طرفۍ په تله کې راګیر سي چې له جغرافیوي اړخه نامناسب وو او هم په کورنۍ او له ګاونډیو سره په جګړو کې ئـې راښکیل کړي.» موږ به په راتلونکې څېړکي کې د پوهاند الف کورنین [٤] د **«دائـمي بې طرفۍ د تیورۍ اووۀ شرطونه** Seven Conditions of the Theory of Permanent Neutrality » وړاندې کړو[٥].

---

٣ - Crankshaw, Edward, Bismark ( London: Macmillan Papermac.ed., ١٩٨٢), ٢٤٨-٢٤٨
٤ - Sustaining Security: Rethinking American Security Strategy, Eds. Jeremi Suri & Benjamin Valentino. Tobin Project. Oxford University Press. ٢٠١٦.
٥ - Ditto. Cronin, A.K. Neutralization as a Sustainable Approach to Afghanistan.  Chapter Xiii. Pp. ٣٤٩-٨٣.

**تورکمنستان** : د پخواني شوروي اتحاد له پاتې شونو توتاليتر يا استبدادي جمهوريت د استقلال له اعلانولو وروسته په ۱۹۹۱ز کال د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي مجمعې ته خپله غوښتنه وړاندې کړه چې د تورکمنستان ددائـمي بې طرفی د په رسميت پېـژندلو لپاره يو پرېکړه ليک تصويب کړي. په زړهٔ پورې دا ده چې د تورکمنستان د غوښتـنې په هکله پرېکړه ليک د روسيې د فدراسيون، د امريکا د متحده ايالاتو، ايران، پاکستان او ترکيې په ملاتړ او ژمنې خو له کوم اجرائـيوي ضمانت پرته تصويب سو. دغـهٔ پرېکړه ليک د ملګرو ملتونو د امنيت د شورى  ددائـمي غړو يعنی د روسيې د فدراسيون، چين، انګلستان، د امريکا د متحده ايالاتو او فرانسې له ملاتړ پرته کوم عملي يا اجرائـيوي ضمانت نـهٔ درلود. د ۱۹۴۵ز د اکتوبر د مياشتې له ۲۴ نېټې وروسته يعنی له هغه مهاله چې د ملګرو ملتونو د جوړېدلو طرحه جوړه سوې، د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي مجمعې په زر هاوو مصوبې تصويب کړې دي چې د ملګرو ملتونو د سازمان په سترو آرشيفونو کې د کومې عملي وړتيا له لرلو پرته په بې ځانه ډول د زمان وهلو دوړو او خاورو تر کواړيو لاندې پرتې دي.

د دويمه برخه پای

نور بيا

تذکر:

هرګاه خوانندګان محترم متمايل باشند که نبشته ها و مطالب ديګرى از اين نويسنده را مطالعه کنند، مى توانند با "کليکى" بر عکس نويسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشيف" شان رهنمائى شوند.

د دی ليکنی د لمړی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لينک» باندی، «کليک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_۱.pdf